Pashto

# د انګریزي ژبې تشدیدي پروګرام

# مور او پلرو ته معلوماتي

# کړیز یا لاربښوود



The Pines School

| | |
|---|---|
| دښوونځي نوم: | The Pines School |
| پته: | 42 Andrew Smith Drive, Parafield Gardens 5107 |
| تیلیفون شمیره: | (08) 8281 2199 |
| بریښنالیک/ایمیل: | Priyanka.Sharma459@schools.sa.edu.au |
| داړیکي نیولو شمیره: | (08) 8281 5906 |

Government of South Australia
Department for Education and Child Development

## دښوونځي مشرتابه The Pines School

پلي ته ښه راغلاست



Cherie Collings
Principal



Sam Konnis
Deputy Principal



Priyanka Sharma
Assistant Principal, IELC

### په جنوبي آستراليا کي دانګريزی ژبي تشديدي پروګرام او نوي راغلو پروګرام په هکله

د ښووني اوروزني او ماشوم پراختيا وزارت په آستراليا کي دنوي راغلو زده کوونکو لپاره دانګريزي ژبي تشديدي مرسته برابروي. په لمړني ښونځيو کي دا پروګرام دانګريزي ژبي تشديدي پروګرام (IELP) او په منځني ښوونځيو کي، د نويوراغلو پروګرام NAP په نامه يادېږي .

د پناه غوښتونکي او مهاجرت سابقه لرونکي زده کوونکي مخکي له دی څخه چي په عمومي ښوونځيو کي خپل لوست اوزده کړه پيل کړي په IELP يا NAP کي نومونه ثبت وي. دلته اوه لس لمړني مرکزونه، يو منځني او يو دلويانو منځني مرکز شته دي. د لمړني ښوونځي زده کوونکي کورته نژدی ښوونځي که داخلېږي. که تاسو پته بدلوئ ، دا ددې معنا لري چي ستاسي ماشوم اړتيا لري چي IELP په بل ښوونځي کي ولولي.

**موخه**

IELP/NAP زده کوونکو ته يو فرصت برابروي:

- عمومي ښوونځي ته چمتو کيدل
- په کوچنيو ټولګيو کي د تعليمي نصاب ساحو کي د انګريزي ژبي تشديدي زده کړه
- د آستراليا په کلتوري فعاليتونو کي دبرخي اخيستلو اودهغه په اړه زده کړه
- چيرته چي ممکن وي ، په لمړنی ژبه کي دملاتړ ترلاسه کول
- په آسترالیايي ټولنه کي دژوندکولو باور پرمختيا

د زياتو معلوماتو لپاره، د ښوونځي څخه د IELP/NAP خپروني لپاره، چي په 20 ژبو کي شته دي غوښتنه وکړئ.

### د پاتکیدلو اوږدوالي موده

په  NAP / IELP کې دپاتیکیدلو اږدوالي موده ستاسې دماشوم ښوونځي لوست او دراتګ په وخت کې دهغه دانګریزې ژبې پوهې پورې اړه لري. لمړني زده کوونکي په عمومي توګه IELP کې د 12- 18 میاشتو لپاره پاتې کیږي. منځني زده کوونکي د 12- 24 میاشتو مودی لپاره په( NAP) کې پاتې کیږي.

### ټولګي کې ځای په ځایکیدنه

په ټولګیو کې زده کوونکي دهغوئ د عمر دکلونو د سطحی په اړه ځای په ځای کیږي. په ټولګي کې به زده کوونکي دانګریزي ژبې د بیلوبیلو سطحو پوهې ولري خو دعین عمرکلونو په حدودو کې. دا مهمه ده چې ماشومان خپل سطحی  همزولي ملګري پیدا کړي.

### لیږد یا انتقال

کوم وخت کې چې زده کوونکی عمومي ټولګي شاميلدو ته تیاروي، دښوونځي کارکوونکي به نوي ښوونځي ته د هغه د لیږد یا انتقال په اړه ملاتړ وکړي. دا به معمولاً دهغوئ دسیمی ښوونځي وي.  کم ترکمه دنوي ښوونځي کتنه به یو ځل تنظیم شي. په مجرددی چې ستاسی ماشوم په نوي ښوونځي کې پیل وکړ د  NAP / IELP مشر به  دوتلویو مفصل راپور نوي ښوونکي ته ولیږي،

### تعلیمي نصاب

د  NAP / IELP تعلیمي نصاب یو قوي توجه د ژبې په ایجاباتو باندې د آسترالیایي تعلیمي نصاب زده کړی بیلوبیلو اړتیاووته اړه وي لکه حساب ، روغتیا یا جغرافیې. ښوونکي د انګریزي ژبې پرمختیا په تسلسل باندی پوهیږي او زده کوونکي ټولنیزو اړتیاوو اوهمدارنګه د تعلیمي نصاب زده کړې دواړو ته تیاروي. ځکه چې نوي زده کوونکي د تعلیمي دوری هروخت کې په زده کړه پیل کوي، ښوونکي د انګریزي ژبیې پروګرام چې د زده کړې اړتیاوو ته ځواب ووایي  دټولګي د شاميلدولو سره سم برابروي.

د تعلیمي نصاب اختیارونه  یا لاری په ډیر پام سره جوړیږي ځکه چې ددی پروګرام وخت ډیر محدود دی. ښوونکي دزده کړې دندو پلاوني ترڅو د هغوئ عمومي زده کړو ټولګیو ته دانتقال لپاره ملاتړشي.

### ښوونه او ارزونه

په جنوبي آسترالیا کې د  NAP / IELP ښوونکي د انګریزي ژبې په ښوونه کې د یوی اضافي ژبې په توګه ډیرمهارت لري. دوی پوهیږي چې ستاسي د اولاد ښوونځي تیره تجربه ډیر احتمال لري چې دآسترالیا دښوونځیو دتمو څخه زیات توپیرولري. ښوونکي به زده کوونکي حمایت کي ترڅو دټولګي په بحثونو کي برخه واخلي، پوښتنې وکړي، په ډله او جوړوونکي فکر کاروکړي.

ټول ښوونکي دارزونې یوه وسیله لري، *د ژبې او سواد سطحی* څو دانګریزي ښوونه او د زده کوونکودلاس ته راوړنو ارزونه وکړي. په په هره دوره کې ستاسو دماشوم پرمختیا ثبت ایږي. په لمړني IELP کې، ښوونکي د پرمختیا راپور څخه کاراخلي او حساب او شمیرو راپورونه د زده کړې لپاره ثبتوي.









### د ښوونځي دوه ژبني خدمتونو کارکوونکي

د ښوونځي دوه ژبني خدمتونو کارکوونکي (BSSO) نویو راغلو ته د میشته کیدلو او انګریزي ژبې پرمختیا کې ملاتړکوي. دو ی زده کوونکو سره په ځانګړي یا په ورو ډولو کې مرسته کوي. دوی همدارنګه د ښوونځیو ، زده کوونکو او مورا وپلار ترمنځ د تماس په کارکې مرسته کوي. ښوونځي په هره دوره کې د زده کوونکو دا ړتیا لمړی ژبې ملاتړ په اړه پریکړې کوي. دا ملاتړ د دوه ژبني خدمتونو کارکوونکو یا BSSO د مُهیاتوب پورې تړلی ده.

### تفریحي او علمي سفرونه او دښوونځي پېښې

تفریحي سفرونه او دښوونځي په پېښو کې برخه اخیستنه زده کوونکو ته اجازه ورکوي ترڅو د سیمي او پراخې ټولنې په هکله زده کړه وکړي او دا NAP / IELP د تعلیمي نصاب برخه ده. دا تجربې یو فرصت دی چې د کلتوري کړو په اړه زیات وپوهیږي او د برخه اخیستو اړتیا ژبه زره اولاس ته راوړي.

### تګ راتګ /ټرانسپورټ

هغه زده کوونکي ځوک چې تر 10 کلونو څخه کم عمرولري او د ښوونځي څخه د 1.75 کیلومترو واټن لیری ځای کې اوسیږي هغوي ور دي چې په میني بس کې ښوونځي ته او د ښوونځي څخه کورته تګ راتګ وکړي.

په میني بس کې د زده کوونکي محافظت یوه شریکه دنده او مسؤلیت دی.

دپالوونکي دنده:

- د سهار له خوا سرویس یا بس ته د زده کوونکو تیارول او انتظار ایستل
- کوم وخت چې زده کوونکي دغرمې وروسته بیرته کورته راځي په کورکې وه اوسي او ښکاره شي
- خپل ماشوم سره د ښه کړه ورو داهمیت په هکله خبرې وکړئ
- که کومه ورځ دتګ راتګ لپاره اړتیا نه وي ښوونځي یا ډریور خبرکړي.

د زده کوونکو مسؤلیتونه:

- ډریور لارښوونې تعقیب کړي
- دڅوکۍ کمربند وتړي او ترهغه چې سفرکوي هغه تړلی وساتي
- په آرامه توګه خبرې وکړي
- خوراک او څښاک ونه کړي
- دریډل یا دڅوکۍ بدلول ونه کې
- دکړکۍ څخه تنه یا ځان ونه باسي.

کوم زده کوونکي چې ددې قواعدو رعایت ونه کې ډریور دهغو راپور ورکوي. که دا چلند ته ادامه ورکره شي، یا شدید اوسي ماشوم ته به کم ترکمه دیوه ورځې لپاره په سرویس یا بس کې د تګ راتګ اجازه ورنه کړای شي. پلرونه میندې به خبر کړل شي. ځنګه چې زده کوونکي منع شوي وه نه اوسي دا دپالوونکي مسؤلیت دی چې زده کوونکي ښوونځي ته راولي او دښوونځي څخه بیرته کورته بوزي.

## دښوونځي معلومات

### دښوونځي وختونه

| دوشنبه – جمعه |
|---|
| 08:50 am – 03:00 pm |

### د زنګ وختونه

| کړه /فعالیتونه | وختونه |
|---|---|
| زده کوونکي کولای شي دښوونځي انګړ ته ننوزي | 08:30 am |
| دښوونځي پیل | 08:40am |
| لوستونه (درسي ساعت) | 08:50 am |
| تفریح | 10:40 am |
| لوستونه | 11:00 am |
| د غرمې ډوډۍ خوړل | 12:40 pm |
| دغرمې تفریح | 12:50 pm |
| لوستونه | 01:20 pm |
| د ښوونځي دورځې پای | 03:00 pm |

## حاضری/ نشتوالی

د قانون په اساس په جنوبي آستر الیا کې هغه ټول زده کوونکي چې د 6 او 17 کلو عمر دې لازمه ده چې په منظمه توګه په ښوونځي کې حاضر اوسي. د اکاډمیک یا علمي بریالیتوب لپاره منظمه حاضری او په تعلیمي کړو کې فعاله برخه اخیستل ضروري ګڼل کیږي. که ستاسو ماشوم غیرحاضروي، مهرباني وکړئ ښوونځي د ټیلیفون او یا لیک له لاری خبر ورکړئ.

که تاسي پوهیږئ چې ماشوم به مو د 3 ورځو یا زیات وخت لپاره د کورنی دلایلو له امله غیرحاضروي، د معافیت فورمه **باید** چې ډکه شي او د ښوونځي د مدیر له خوا مخکي له دی څخه چې هغه (هلک یا نجلی) لاړ شي تصدیق وشي.

*ناوخته یا وختي بیول*

یو زده کوونکي څوک چې ناوخته راشي:

- ☐ باید مخي دفترته لاړشي او دناوخته راتګ پارچه مخکي له دی څخه چې تولګي ته لاړشي واخلي.
- ☐ باید تولګي ته چټک لاړشي.
- ☐ باید دمخي دفتر ته لاړشي او دناوخته راتګ پاڼه لاسلیک کړي.
- ☐ باید دزده کوونکو دفتر کي دستخط وکړي.

هغه زده کوونکي لپاره کوم چې غواړي وختي لاړشي:

- ☐ مور اوپلار / پالوونکي باید دمخي دفتر کتاب کي لاسلیک وکړي.
- ☐ مور اوپلار / پالوونکي باید د ماشوم یادداشت کتابچه کي یو یادښت ولیکي.
- ☐ مور اوپلار / پالوونکي باید دمخي دفترڅخه یو وختي تګ پارچه واخلي او دتولګي ښوونکي ته یې ورکړي.
- ☐ مور اوپلار / پالوونکي بایدد ماشوم د تولګي ښوونکي سره خبری وکړي.
- ☐ د زده کوونکو په دفترکي دوتلو لاسلیک وشي.

### دانګړ څارنه

زده کوونکي نه باید چې دسها 08:30 am او غرمي وروسته 03:20 pm بجو څخه مخکي په ښوونځي کي اوسي ځکه چې وظیفه دار ښوونکی نشته.

### دزده کوونکي روغتیا او خوندیتوب

### دماشوم خوندي چاپیریال

ښوونکي د زده کوونکو لپاره د خوندیتوب احساس اړتیا باندی پوهیږي. دوی زده کوونکو ته د حالتونو، موادو او کړو خطرو زده کړه ورکوي. ځورونه دزغم وړ نده، څه چې په تولګي یا دلوبو غولي یا میدان کي، یا د ډیجیټل رسنو ( آواز، ویډیو او څیرو یا عکس) له لاری وي.

کوم وخت چې د تکنالوژی څخه کار اخیستل کیږي میندي پلرونه او ښوونکي د ماشومانو د خطری په اړه د یو مناسب څارني له لاری دخوندیتوب مسؤلیت لري.

ښوونځي او ددوی کارکوونکي ته دقانون په اساس لازمه ده چې د ماشوم د ځوروني شکمن حالت او د ماشوم ځوروني غفلت له امله د آن لاین له لاری راپور ورکړي.

### د ایمرجنسي یا بیړني حالت طرزالعملونه

ټول ښوونځي د بیړني حالتونو طرز العملونو تمرین کوي ترڅو زده کوونکي پوه شي چې که انګړ یا ودانی خوندي نه وي څه وکړي.

د *ځای خالي* کولو په ترڅ کي، زده کوونکي ودانی خوشی کوي او په انګړ کي سره تولیږي، لکه د اور لګیدلو په صورت کي. د *ځای خالي* کولو په ترڅ کي، زده کوونکي انګړ یا غولي پریږدي او په ودانی کي خوندي ساتل کیږي.

دمیلمنو یا ملاقات کوونکو څخه غوښتنه کیږي چې په مخي دفتر کي 'میلمنو کتاب' ډک کړي. که یو بیړني حالت راپورتهه شي بیا کارکوونکي پوهیږي چې څوک په ښوونځي کي شته دي،



دسر دسپګو لټول

### د سرسپګي

دسرسپګي د کال په یو معین وخت کي یو عادي شی دی. که دسپګو خپریدل را برسیره شوی اوسي ستاسو په اجازه، ،کارګوونکي ستاسو دماشوم ویښتان لټوي. کوم وخت چې دسرسپګي ولیدل شي، دتولګي زده کوونکوتولي کورنئ خبرول کیږي چې په کورکي دماشوم سر ولټول شي. زده کوونکي باید په کور کي پاتي شي

ترڅو ددرمل شامپو استعمال شي او دسپګو هګی له مینځه لاړې شي.

### گرمه یا لمده هوا

په ډېره زیاته ګرمي یا لمده هوا ورځو کې زده کوونکي د تفریح او غرمي ډوډۍ خوړلو وختونو کې د ودانۍ دننه د ښوونکو دڅارنې لاندې پاتې کیږي



دناروغی خوني امکانات

### ناروغی/ ژبله

ناروغه ماشومان باید په کورکې پاتې شي ترڅو بیماری نوروته لاړه نه شي.

که دوی غیرحاضراوسي، مهرباني وکړئ ښوونځي خبرکړئ. زده کوونکي کوم چې د ښوونځي په یوه یوه پیښه کې ښکیا شي یا ناروغه شي هغوی دمخې دفتر/ د بیمار خونه ته راواستل کیږي. زده کوونکي درمل کیږي او که ارتیا شي پاملرونکو ته کیدای شي تیلیفون وشي ترڅو دوی کور ته بوزي. دزیاتو جدي ژوبلو یا ناروغیو په حالت کی امبولانس غوښتل کیږي.

### ساري ناروغی

د ښوونځي په په لمړنیو څو کلونو کې یو ماشوم بیل ډول ساري ناروغیو سره مخامخ کیږي . د نورو زده کوونکو ژغورل او محافظت لپاره، په داسی حال کې چې دوئ بیماره اوسي هغوئ په کورکي ساتل کیږي. د جلاوالي لاندیني مودې حد اقل وختونه دي. ستاسو ډاکټر به تصدیق کړي چې ستاسي ماشوم په کور کې د استراحت لپاره څومره مودې ته ارتیا لري.

| ناروغی | جلاوالي موده ( وخت په کورکي) |
|---|---|
| Chickenpox شری | 5 ورځی د دانو د ښکاره کیدو وروسته |
| Conjunctivitis<br>د سترګو دبنو التهاب/جخړي | جلاوالي ترڅو دسترکو چخړې ورکې شي |
| (Slap Face / Fifth Disease)<br>په مخ باندی د پزی او ستوني لعاب له امله سره التهابي خاپونه | ترڅو چې ښه شوی نوې رانه شي |
| Glandular Fever<br>دستوني د غوټو یا غدودو تبه | ترڅو چي د ښه والي احساس ونه کي رانشي |
| Hand, Foot and Mouth<br>د لاس، پښو او خولې تناکی | جلاوالي تناکي وچې شي |
| Impetigo (school sores)<br>یو ډول پوټکي یا جلدی التهاب | د مؤثر درمل د پیل پوری جلاوالي – ترڅو چې ښه والي ولیدل شي |
| Influenza and cold<br>زکام او ساره | ترڅو چي د ښه والي احساس ونه کي رانشي |
| Measles شري یا سُرخکان | 4 ورځې د سوروالي برسیره کیدو راهیسې |
| Mumps کلچرک | 9 ورځې ترڅو پرسوب کیني |
| Ringworm<br>پوټکي یا جلدی سره ګِردي التهابي خاپونه | جلاوالي وروسته د روغتیایي درمل پیل څخه |
| Rubella جرمني شِری یا سرخکان<br>(German Measles) | 5 ورځې د دانو دښکاره کیدو وروسته |
| Scabies<br>پوټکي یا جلدی دانی چې زیات خارښ کوي | جلاوالي وروسته د روغتیایي درمل پیل څخه |
| Whooping Cough<br>توره توخُله | پنځه ورځې وروسته د انتي بیوتیک د پیل څخه |

### درمل

دپاملرونکو څخه غوښتنه کیږي چې دبیماریو او حساسیتونو لپاره دداروګانو آخرني معلوماتوراپور مخې دفتر ته وراندی کړي، د اسما /نفس تنګي) په شمول . (د ډاکټر له خوا لاسلیک شوې طبي پلان د زده کوونکي لپاره ترڅو زده کوونکي څوک چې په منظمه توګه دارو وخوري ایجاب کوي).
کارکوونکي نه شي کولای چې ناروغه زده کوونکو ته دارو ورکړي، حتی پندول Panadol . که څه هم، روزل شوي کارکوونکي کولای شي دزده کوونکو ملاتړ یا څارنه وکړي ترڅو د پنډول Panadol دارو وخوري.

**د ښوونځي دغاښونو خِدمتونه**

د جنوبي آسترالیا غاښو خِدمت د غاښو پاملرنه ټولو هغه ماشومانو ته چې د 18 کلو څخه یې عمر کم وي برابرکړیده. دا خِدمت که تاسو لاندې څیزونه ولرئ وړیا دی:

- Centrelink امتیازي کارډ یا کانسیشن
- دښوونځي کارډ
- د ماشوم د غاښونو د ګټي تقسیم اوقات.

که ماشوم ددغو څخه دیو له لارې احتوا شوی ونه اوسي، عمومي او بیړي غاښونو پاملرنه به یو څه لږ لګښت ولري. مهرباني وکړئ لاندینیو کلینیکونو ته د وخت اخیستلو یا اپاینتمنټ لپاره ټیلیفون وکړئ. ټول کلینیکونه هرورځ پرانیتي نه وي.

| | |
|---|---|
| پته: | Salisbury Downs Dental Clinic<br>Hollywood Boulevard, Hollywood Plaza Shopping Centre, Salisbury Downs |
| ټیلیفون شمیره: | (08) 8250 9254 |

دبیړي په حالت کې، ټیلیفون شمیره:222 022 1800

**د سِل یا تبرکلوز آزمیښت**

د اډلیډ شاهي روغتون(RAH) د سیني کلینیک د IELP مرکزونو څخه هرکال د سل یا تبرکلوز (TB)آزمیښت لپاره لیدنه کوي. دا دسږي مرض دی، ا او په زیاترو بهرنیو هیوادو کې یو عامه ناروغی ده. د زیاترو خطرو ساحو ځوان خلک په (TB) مرض اخته کیدو سره مخامخ دي. ستاسو د ماشوم عکس به ستاسو درضایت له امله واخیستل شي.

دا د اډلیډ دشاهي روغتون په 2 کتنو کې شامل دی (3 ورځو فاصله کې)، لمړی د تبرکلوز پوټکي یا پوستکي معاینه او بیا د هغه د عکس العمل اندازه. زده کوونکي چې د سل مرض سره مخامخ شوي وي د ګولیو خوړلو یو کورس یا دوری ته اړتیا لري. ټول خِدمتونه وړیا دي.



1 لیدنه – د سل مرض پوټکي لاندې آزمیښت



2 کتنه– د عکس العمل اندازه



دزده کوونکي د زده کړي حق




دزده کوونکي حق چي د خونديتوب
او امن احساس وکړي

## د ښووونځي طرزالعمل /اجرات

### دچال چلند تمې

ښوونځي د چلند يو مقرره لړي کوم چې د زده کوونکو څخه د هغه د رعايت کولو تمه لري. چلندونه کوم چې دزده کوونکو د حقونو درنښت زده کړي او د ښوونکو حق چې دښوونه وکړي مسؤلانه چلندو نه دي.

زده کړه ملاتړ کيږي کوم چې زده کوونکي:

- خوندي او امن وي
- چې د پوريتوب يا تعلُق احساس لپاره يې پاملرنه کيږي
- د مهمو خلکو په توګه پيژندنه
- کلتوري او ديني مذهبي توپيرونو درنښت احساس
- د ښو پريکړو او اختياراتو توان لرل
- د ښوونځي څخه خوند واخلي
- د برياليتوب لاس ته راوړني

ښوونکي او زده کوونکي په ګده توګه دټولګي مقرراتو ته پرمختيا ورکوي.دټولګي مناسب چلند کيدای شي دا پايل رامنځ ته کړي:

- د مقرراتو اوخبرواترو سپارښتنه
- د ټولګي ،څخه عليحده کيدل
- د ملګري ، څخه عليحده کيدل ،
- د دفتر ،څخه عليحده کيدل ،

زده کوونکي بايد هغه مقررارت چې د انګړ لپاره شته دي په پام کي ونيسي.که قاعده ماته شوه، د زده کوونکو دلوبو کولو حق به تری واخيستل شي. دوی ته لازمه ده چې عليحده کيني او دخپل چلند عکس العمل وګوري.

که د زده کوونکي چلند افراطي يا پرله پسی نا مناسب وي، ښوونځي کولای شي:

- کور سره اړيکه ونيسي او پاملرونکي سره کتنه برابره کړي
- يو لړ منطقي پايلي نه کاروا‌خلي
- زده کوونکي کورته بوزي يا يي راتګ څخه معطل کړي/ دښوونځي څخه عليحده کړي

جسمي سزا، لکه وهل، په کوناټي وهل او سګُنډل/چنډي کولو هيڅ کله استعمال نه شي. د مشورې ، مثال او د مناسب کړو عملي کولو مثبت ملاتړ له لاري د زده کوونکي د چلند پوهه ، تمه او پايل يا نتيجه لاس ته راتلای شي.

عليحدګي




دښوونځي کتابتون

### کتابتون

زده کوونکي د کتابتون څخه کتابونه په پور اخيستلای شي چې په کوركي يي ولولي.
هغه بايد بيرته وروسته راستانه شي:

☐ 1 . اونی
☐ 2 . اونی.

مهرباني وکړي په کتاب کي ليکل مه کوئ. که کتاب ورک يا خراب شي کيدای شي تاسو څخه دهغه لګښت تاوان غوښتنه وشي.

### قيمتي څيزونه

ماشومانو ته مشوره ورکول کيږي چې ښوونځي ته قيمتي شيان را نه وړي لکه موبايل ټيليفون، آی پاډiPods او زياته اندازه پيسي.
ښوونځي د ورکيدلو مسؤليت په غاړه نه اخلي.



دورک شویو شیانو صندوق

**ورک شوی ملکیت**

که ستاسي ماشوم په ښوونځي کي خپل شیان ورک کړي، هغوی کولای شي هغه دورک شویو شیانو په صندق کي وګوري:

- ☐ د مخي دفتر کي
- ☐ په کانتین کي
- ☐ بهر د IELC په دفتر کي
- ☐ په کتابتون کي
- ☐ په JP کي چي د لوبي ساحي دننه کي دی
- ☐ د مشاور دفتر څخه دباندی

**لیبلنګ یا نښه ایښودنه**

مهرباني وکړئ د ډاډ په خاطر د ماشوم ټول شیان د هغوی د نامه سره په نښه کړئ، لکه د غرمي ډوډۍ قطي، داوبو څښلو بوتل او کالي.

**د کالیو مقرره**

تمه کیږي چي ټول زده کوونکي هره ورځ د ښوونځي کالي یا یونیفورم واغوندي.

یونیفورم کولای شي د دی ځایونو څخه واخلي:

- ☐ په ښوونځي کي
- ☐ د ښار د یونیفورم هټی څخه
- ☐ د Big W، Kmart، یا Target څخه.

دا مهمه ده چي زده کوونکي د ورځنی هوا سره سم کالي واغوندي، لکه جمپر، اوږد پتلون او بند بوټان کوم وخت چي ساړه اوبارني هوا وي.

**خولۍ**

موږ د لمر پالیسی لرو چي غوښتنه کوي ترڅودښوونځي خولۍ په سرکړي. که ماشوم خولۍ ونه لري هغه په سیوري کي کښینول شي.

خولۍ به په ښوونځي کي کښیښودله شي او باید چي کله بیرون وزي هغه په سرکړي:

- ☐ هر وخت دکال په ترڅ کي
- ☐ په 1 او 4 تعلیمي دوره کي
- ☐ په 1، 3 او 4 دوره او په 2 دوره کي کوم وخت چي UV وړانګي د 3 دورې څخه زیاتي وي
- ☐ په ، 3 او 4 دورو کي
- ☐ د کال په ترڅ کي هروخت - کوم وخت چي UV وړانګو اندازه 3 او لوړ وي.

دښوونځي خولۍ

که ستاسي ماشوم خوله ورکه کړي وي لازمه ده چي دمخي دفتر څخه بله راونیسئ.

**د ښوونځي لپاره مناسب کالي**

بالاتني



ښوونځي ټي میس



ښوونځي جمپر



ښوونځي پولو

لاندیني /لمن

نجنو کمیس



د ښوونځي کمیس



لنډ پتلون/شارټ



اوږد پتلون

## خواړه او تغذیه



روغتیایي سپک خوراک فکرونه



غرمي صحي خوړو فکرونه

### تفریح

ماشومان خواړه د تفریح وخت لپاره راوړي لکه میوه. موږ ماشومان هڅه وو چې چپسلو اوبو بوتل راوړي چې دورځې په ترڅ کې يې وڅښي .

### غرمي بوډۍ

لازمه ده چې ماشومان دکورڅخه د غرمي خواړه راوړي. موږ غوښتنه کوو چې زده کوونکي صحي ډوډۍ ښوونځي ته راوړي. مهرباني وکړئ خواړه لالي پاپ، شربتونه، جاولي او داسې نور مه رالیږئ.

- ☐ همدارنګه دوی کولای شي دکانتین څخه خواړه واخلي. هغه پرانیتي وي:
  - ☐ هره ورځ
  - ☐ سه شنبه او چارشنبه ورځو کې
  - ☐ سه شنبه او جمعه ورځو کې
- ☐ دوی همدارنګه دسیمي هټۍ څخه خوراک اخیستلای شي.
- ☐ ماشومان کولای شي خپل دزړه خواړه د غرمي ډوډۍ په قطي کې چې د ښوونځي له خوا برابر شویدی د پیسو سره کیږدي.

موږ نه شوکولای د کور راوړل شوی خواړه تاوده کړو.

### حساسیتونه

ځنی زده کوونکي شته دي چې د مغزباب سره حساسیت لري، مهرباني وکړئ ښوونځي ته هغه خواړه مه راوړی چې مغزباب په کې وي لکه muesli bars ، nutella او موم پلي مُربا.

### د مورپلار بوختیا

موږ دښوونځي په ژوند کې د مورپلار /پاملروونکو برخې اخیستلو ته ښه راغلاست وایو. دا ملاتړ په ډیرو لارو کیدای شي لکه دلوستلو اوریدنه، تفریحي سفر، د فعالیتونو غونډو کې مرسته. که غواړی چې دښوونځي سره مرسته وکړئ د ماشوم له ښوونکي سره وګورئ.

مهرباني وکړی دماشوم د ښوونځي بکس هره شپه د لاندینیو اړیکو لپاره وګورئ.

### لوستوونکي/ ریدرز

لوستوونکي به هره ورځ کورته درشي، دامهمه ده چې ستاسو ماشوم یو کس ته هره شپه هغه ولولي. مهرباني وکړئ هره ورځ ښوونځي ته ستاسو دماشوم لوستوونکي دبیرته راوړلو لپاره ځان ډادمن کړئ .

### کورني کار

د کورکار تمې توپیرلري. ښوونکي د زده کوونکي عمر، توان، دانګریزي ژبې پوهې سطح، کورنی ملاتړ او سرچیني په پام کې نیسي. که دکورکار په اړه څه پریشانی ولرئ مهرباني وکړئ د ماشوم دښوونکي سره خبری وکړئ.

### خبرپاڼه او یادښتونه

دښوونځي خبرپاڼه کورته لیږدول کیږي:

- ☐ هرپنځه لس ورځې
- ☐ هره میاښت
- ☐ دوځلي یو تعلیمی دوره کې
- ☐ 3 ځلي په یوه دوره کې.

همدارنګه کورته د تفریحي سفرو، مخکینۍ رخصتي ، ښوونځي نور یادښتونه کیدای شي درولیږل شي. ځيني یاددښتونه مخکي له دي چې ښوونځي ته راستانه شي د لاس لیک ایجاب کوي.

#### دیادداشت کتابچه/ داړیکو کتابونه

ځيني وختونه دماشوم ښوونکي کیدای شي د هغوی په اړیکو کتاب کي تاسو ته یو یادداشت ولیکي. تاسو هم کولای شئ په هغه کي دماشوم ښوونکي ته یاداشت ولیکئ.

زده کوونکي په خپلو یادداشت کتابچو کي دکورني کارونو ثبت او هغه شیان چې دوی اړتیا لري په یاد ولري لیکي. دا کیدای شي داونی په پای کي دلاسلیک ایجاب وکړي.

داړیکو یادداشت کتابچه




## موراوپلار/ پاملرونکو ته راپورورکول

ښوونکي به ستاسو دماشوم دزده کړې پرمختیا راپوردرکړي

- د کال په ترڅ کې د موراوپلار/ ښوونکي/ زده کوونکي مرکې درسره کیږي.
  که چیرې اړتیا وي ژباړونوکي هم مُهیا کیږي.
- د پروګرام څخه ستاسو دماشوم دوتلو/خلاصیدلو لیکلي راپور کورته درلیږل کیږي.
- تیلیفون کول او نور کتني کوم وخت چي ورته اړتیا وي جوړیږي.

## د ښوونځي فیسونه/لګښت

د ښوونځي فیس دیوه ښوونځي له بل ښوونځي څخه توپیرلري. د ښوونځي فیس( یا 'مواد او خِدمتونو لګښت') د اجرایي شورا له خوا برابریږي او د قرطاسیې، دموادوچاپ، د هنر او لاسي کارونو موادو برابرول او خِدمتونو استعمال لکه کتابتون، تکنالوژۍ او سپورټ وسایل پیسې ورکول کیږي.

## دښوونځي کارډ




که تاسو د Centrelink امتیازي کارډ ولرئ، تاسو کورنئ کیدای شي د سنترلنک څخه مرسته ترلاسه کړئ. دا دحکومت ملاتړدی.
دا ملاتړ د **ښوونځي کارډ** په نامه یادیږي.
د ښوونځي کارډڅخه د ښوونځي موادو او خِدمتونو لګښت تحویلی لپاره کاراخیستل کیږي.
له ده څخه د ښوونځي کالي/یونیفورم ، تفریحی سفر یا ځانګړو پیښو پیسې نه ورکول کیږي.
که تاسو داسې یو کارډ ولرئ، مهرباني وکړئ د Centrelink امتیازي کارډ او ویزه ښوونځي ته هرڅه ژرچې کیدای شي راوړئ

## شاخِص/ پیرځلیزې


| | دپاڼې شمیره |
|---|---|
| **دښوونځي دتماس معلومات** | 1 |
| **په جنوبي آسترالیا کې د انګریزي ژبې تشدیدي پروګرام او نویوراغلوپروګرام** | **2** |
| موخه | 2 |
| د پاتې کیدو اوږدوالی | 3 |
| دټولګي تعیین | 3 |
| انتقال | 3 |
| تعلیمي نصاب | 3 |
| ښوونه اوارزونه | 3 |
| دښوونځي دوه ژبني آفیسران | 4 |
| تفریحی سفرونه او ښوونځي پیښې | 4 |
| تګ راتګ | 4 |
| **دښوونځي معلومات** | **4** |
| دښوونځي وختونه | 4 |
| د زنګ وهلو وخت | 4 |
| حاضري/غیرحاضري | 5 |
| ناوخته/ وختي تګ | 5 |
| د انګړ څخه تعلیق | 5 |

| دپاڼي شمیره | |
|---|---|
| **5** | **دزده کوونکي روغتیا او امن** |
| 5 | دماشوم چاپیریال خوندیتوب |
| 5 | بیړۍ طرزالعمل |
| 5 | دسر سپږې |
| 6 | تودوختې او ساړه |
| 6 | ناروغی/ژوبله |
| 6 | ساري بیماری |
| 6 | درمل |
| 7 | دښوونځي غاښو خِدمت |
| 7 | سل بیماری آزمیښت |
| **8** | **دښوونځي طرزالعملونه** |
| 8 | دچلند تمې |
| 8 | کتابتون |
| 8 | قیمتي څیزونه |
| 9 | ورک شوی ملکیت |
| 9 | نښه کول |
| 9 | د کالو مقرره |
| 9 | خولی |
| 9 | دښوونځي لپاره مناسب کالي |
| **10** | **خواړه اوتغذیه** |
| 10 | تفریح |
| 10 | غرمې ډوډی |
| 10 | حساسیتونه |
| **10** | **موراوپلاربوختیا** |
| 10 | لوستونکي |
| 10 | د ښوونځي کورني کار |
| 10 | خبرپاڼې او یادداشتونه |
| 10 | دیاداشت او اړیکو کتاب |
| 11 | مور او پلار ته راپور ورکول |
| **11** | **دښوونځي فیس/لګښتونه** |
| 11 | دښوونځي کارډ |